قندیل

یو وخت یوه زوی خپل پلار پرېښود او ډېرکالونه په یوه لیرې سیمه کې له نا اشنا خلکو سره و اوسېد. څه وخت وروسته هغه خپل پلار ته ښېرته ورستون شو. هغه ځان ته په دې مغرور وه چې یو ښه هنر، چې څنګه قندیلونه جوړ کړي، یې زده کړی وه. هغه [خپل پلار] ته وویل چې د دغه هنر ټول [ځایې] استادان وروغواړي چې هغه ورته خپل هنر څرګند کړي.

د هغه پلار ټول قندیل جوړوونکي راټول کړل چې هغه ورتیا ووینې چې د هغه زوی له نورو سره د اوږدې مودې د تېرولو پر وخت ترلاسه کړې وه، خو کله چې زوی هغه ډیوه راوړاښته چې هغه جوړه کړې وه، هغوی ټول په شول چې هغه ډېره زیاته بدرنګه وه. ترهغه وروسته پلار هغوی ته ورغی او له صنعتګرانو څخه یې د هغوی د رینښتنې نظریې پوښتنه وکړه. هغوی پرته له دې چې رینښتیا ووایي بل هېڅ لاره نه لرله، او هغه دا چې هغه کرکه پارونکې وه.

وروسته زوی [خپل پلار ته] په لاپه وویل، «زما د هنر حکمت دې ولید؟»
پلار ځواب ورکړچې ټول وایي چې ښکلې نه ده.
زوی ځواب ورکړ، «پرعکس د دغې ډیوې له لارې هر یوه ته د هغه د کمیو په ورپه ګوته کولو سره ما خپل مهارت ښودلی دی. په دغه ډیوه کې ما د دغه هنر د ټولو ځایې استادانو کمزورتیاوې شاملې کړې دي. ودې نه لیدل چې یوه یې یوه برخه بدرنګه وګڼله خو بله برخه یې په ښه ډول جوړه شوې وګڼله. په داسې حال کې چې بل بیا هغه برخه چې هغه بدرنګه ګڼلې وه ښکلې او عجیبه وګڼله.

د هغوی ټولو خبرې سمې دي. څه چې یو یې بد ګڼي بل ته ښه ښکاري، او هغه چې لومړی یې ښه ګڼي بل ته ښه نه ښکاري. ما دغه ډیوه یوازې له کمزوریو څخه جوړې کړې ده او بس، او دا د دې له پاره چې هغوی ټولو ته وښیم چې هغوی کمال نه دی ترلاسه کړی. هریو یوه کمزورتیا لري، ځکه څه چې د یوه له پاره ښایسته وي هغه د بل له پاره عیبي دی، خو که زه وغواړم زه کولی شم چې یوه ډېره ښه ډیوه جوړه کړم.»